# ستاسو څخه د يو چا په زړه کې ايمان داسې کمزورى کيږي لکه څرنګه چې جامې - په اغوستلو سره - زړيږي، نو له الله تعالى څخه وغواړئ چې ايمان مو په زړونو کې تازه کړي

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دى وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «ستاسو څخه د يو چا په زړه کې ايمان داسې کمزورى کيږي لکه څرنګه چې جامې - په اغوستلو سره - زړيږي، نو له الله تعالى څخه وغواړئ چې ايمان مو په زړونو کې تازه کړي».

[صحيح دى] [الحاكم او الطبراني روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې ايمان د مسلمان په زړه کې داسې زړيږي او کمزورى کيږي، لکه څرنګه چې نوي جامې په زياتو کارولو سره له منځه ځي؛ دا په عباداتو کې د نقصان، يا ګناهونو له امله او يا هم په شهوتونو کې د ښکيلتيا له امله. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته لارښوونه وکړه چې له الله تعالى څخه وغواړو چې ايمانونه مو د فرائضو په ادا کولو ، زيات ذکر او زيات استغفار ويلو سره تازه کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65020